# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۲۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۷/۲۳



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د صنعتي پارکونو د ځمکو بیې د ولایتونو د کټګوریو پر اساس وټاکل شوې

۲- د امام ابوحنیفه (رح) پنځم نړیوال نندارتون کې د شاوخوا یو میلیارد ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه او هوکړه‌لیکونه لاسلیک شول

## د صنعتي پارکونو د ځمکو بیې د ولایتونو د کټګوریو پر اساس وټاکل شوې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې د صنعتي پارکونو د ځمکو بیې د ولایتونو د کټګوریو پر اساس وټاکل شوې. په دې غونډه کې د صنعتي پارکونو د ځمکو د قیمتونو ټاکلو په تړاو د ځانګړې شوې کمېټې راپور وړاندې او تایید شو، چې له مخې یې د لومړۍ کټګورۍ ولایتونو په صنعتي پارکونو کې د هر مترمربع ځمکې بیه ۱۵۰ افغانۍ، د دویمې کټګورۍ ولایتونو لپاره ۱۰۰ افغانۍ او د درېیمې کټګورۍ ولایتونو لپاره ۵۰ افغانۍ ټاکل شوې ده. د صنعتي پارکونو لپاره د ځمکو د بیو ټاکل پانګوالو ته دا فرصت برابروي، چې د تولیدي پروژو د پیل لګښتونه له مخکې محاسبه او د پانګونې لپاره مناسب ځای وټاکي. دا موضوع په ځانګړې توګه د هغو صنعتکارانو لپاره ارزښت لري، چې غواړي د خپلو تولیدي فعالیتونو د پیل یا پراختیا لپاره ځمکه ترلاسه کړي. همدارنګه، د ولایتونو د کټګوریو پر اساس د بیو ټاکل د سیمو د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره د صنعتي ځمکو د وېش لپاره یو مشخص چوکاټ رامنځته کوي. په هغو ولایتونو کې چې د ځمکې بیه ټیټه ټاکل شوې، د تولیدي فعالیتونو د پیل لومړني لګښتونه نسبتاً کمېدای شي او پانګوال د خپلو مالي سرچینو یوه برخه د ماشین‌الاتو، خامو موادو او تولیدي تجهیزاتو په برابرولو مصرفولای شي. د افغانستان اسلامي امارت په هیواد کې د پانګونې د جذب او صنعتي فعالیتونو د پراختیا لپاره پانګوالو او صنعتکارانو ته ډېرې اسانتیاوې رامنځته او ګڼ امتیازات یې منلي دي. دا اسانتیاوې او امتیازات په هیواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد او د هیواد د صنعتي ودې لپاره خورا مهم دي. ټول کورني او بهرني پانګوال کولای شي له دې اسانتیاوو او امتیازاتو او په افغانستان کې د پانګونې او صنعتي فعالیتونو د پراختیا لپاره له چمتو شوي چاپېریال ګټه واخلي.

## د امام ابوحنیفه (رح) پنځم نړیوال نندارتون کې د شاوخوا یو میلیارد ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه او هوکړه‌لیکونه لاسلیک شول

د امام ابوحنیفه (رح) پنځم عمومي او نړیوال نندارتون د ۱۴۰۵ لمریز کال د تلې میاشتې په ۱۵مه نېټه په کابل کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند له لوري پرانیستل شو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وویل، چې د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته، د سوداګرو پر وړاندې خنډونه راکم او د خصوصي سکتور لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي، ځکه د خصوصي سکتور مشارکت د اقتصادي ودې لپاره اساسي اهمیت لري. دغه اووه ورځنۍ نندارتون د کورنیو تولیداتو د

بازارموندنې، د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او د کورنیو او بهرنیو پانګوالو ترمنځ د همکاریو د رامنځته کولو په موخه جوړ شوی و. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې رییس سید کریم هاشمي د نندارتون په وروستۍ ورځ په خپلو خبرو کې وویل، د نندارتون په ترڅ کې د شرکتونو ترمنځ د مستقیمو سوداګریزو ناستو او نورو خبرو اترو له لارې د شاوخوا یو میلیارد ډالرو په ارزښت هوکړه‌لیکونه او تړونونه لاسلیک شول. د دغو تړونونو عملي کېدل کولای شي د سوداګرۍ د حجم په زیاتوالي، د پانګونې په جذب او د تولیدي او سوداګریزو فعالیتونو په پراختیا کې ونډه ولري. په یاد نندارتون کې ۳۲۳ کورنیو او بهرنیو شرکتونو په څه باندې ۷۰۰ غرفو کې خپل محصولات او تولیدات نندارې ته وړاندې کړي وو. په نندارتون کې خوراکي توکي، درمل، لبنیات، ساختماني مواد، لاسي صنایع، غالۍ، پلاستیکي محصولات، د اوسپنې ویلې کولو تولیدات او د بېلابېلو نورو سکټورونو محصولات شامل وو. د مسوولینو د معلوماتو له مخې، د نندارتون په اووه ورځنۍ موده کې د ۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت توکي پلورل شوي او شاوخوا یو میلیون کسانو ترې لیدنه کړې ده. د دغه نندارتون یوه مهمه اقتصادي ګټه د کورنیو تولیداتو معرفي کول او د تولیدوونکو او پېرودونکو ترمنځ د مستقیمو اړیکو رامنځته کول دي. دا ډول اړیکې له شرکتونو سره مرسته کوي چې د خپلو محصولاتو لپاره نوي بازارونه پیدا کړي، د پېرودونکو اړتیاوې وپېژني او د تولید او پلور کچه لوړه کړي. اسلامي امارت له دې وړاندې هم د اقتصادي فعالیتونو او سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه بېلابېل نندارتونونه جوړ کړي دي. دغه ډول نندارتونونه د کورنیو تولیدوونکو او پېرودونکو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا، د سوداګریزو همکاریو د رامنځته کولو او د پانګونې د فرصتونو د پېژندلو زمینه برابروي. د لاسلیک شویو تړونونو عملي کېدل هم کولای شي د کورنیو تولیداتو د بازارموندنې، د سوداګرۍ د پراختیا او بهرنیو بازارونو ته د افغاني محصولاتو د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي.

